# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد    بدين بوم و بر زنده يک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهيم    از آن به که کشور به دشمن دهيم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| اجتماعی | Social |
| --- | --- |

فرهاد وياړ
اول اکتبر ۲۰۱۱

# ناڅاپه راورژيده يوه پاڼه...

شعر يې
تپانده
کليمې يې
ځپانده
باور يې
د توفاني بادونو په ګرداب کې
لمبه وهله هسکه
ځپه وهله مسته
ايمان يې
سره سپرغۍ په تروږمه کې
د ورغوي سکروټې يې ځلانده په نغمه کې
ګوګل يې ډک په مينه
د زړه اور يې پورته په وږمه کې
لپه لپه ستوري يې شيندل
په هنګامه کې.

سينه يې په پولادو وه سينګاره
د لاس ګوتې يې نخاګرې وې
پر پاڼه
هر توری يې په وينو لوند و
هره مصرعه يې په قهر لړلې

هره کرښه يي  فرياد د هيلي
هره قافيه يي نڅا د ميني
*
ناڅاپه راورژيده يوه پانه
ناڅاپه فرياد پورته شو له ما نه
لمر راپريوت پر ليمو
ځاځکی
راوبهيد په اننګو،
سره وياله رهي شوه ناکراره
د يار  زړه په رپيدو شولو آرامه
پورته شول ګامونه له ننګ سره
پورته شول فريادونه له آهنګ سره   .